له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداره

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث

# د پېښو مدیریت

## مجله







#چمتووالی_ځواب وینه__بیارغونه

# فهرست مطالب


| | |
|---|---|
| ۱ | د افغانستان له پېښو سره د مبارزې آمادگی ملي ادارې پرمختګ ته کتنه |
| ۲-۵ | معرفی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث |
| ۶-۱۴ | روند ارایه خدمات در اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث |
| ۱۵ | له پېښو سره د مبارزې آمادگی ملي ادارې لوی رئیس په کابل کې د رضاکارانو ورکشاپ پرانیست |
| ۱۶ | له پېښو سره د مبارزې آمادگی ملي ادارې لوی رئیس د روسيې د فدراتيف جمهوريت له سفير سره وکتل |
| ۱۷ | له پېښو سره د مبارزې آمادگی ملي ادارې لوی رئیس د کډوالی نړیوال سازمان د عمومي رئيس د دفتر له رئیس سره وکتل |
| ۱۸ | رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ریاست های ولایتی این اداره را در بیست ولایت مورد بررسی قرار داد |
| ۱۹-۲۴ | له فتحې څخه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږي تر میاشتې پورې (په تیرو څلور کلونو کې) د ادارې د فعالیتونو او لاسته راوړنو بشپړ راپور |
| ۲۵ | له پېښو سره د مبارزې آمادگی ملي ادارې ۴۱ عراده موټرونه او ماشینری وپېرل |
| ۲۶-۳۱ | راهکار های مؤثر برای کاهش خطرات و اثرات حوادث طبیعی در افغانستان |
| ۳۲-۳۳ | د خیر رسوني اهمیت د شریعت، ټولنې او ساینس په رڼاکې |
| ۳۴-۳۹ | The Necessity of a Modern Approach in Urban Flood Management |

# سخن نخست

افغانستان با تنوع جغرافیایی، شرایط اقلیمی متغیر و بستر اجتماعی ویژه، همواره در معرض وقوع انواع حوادث طبیعی و انسان‌ساخت قرار داشته است. زلزله، سیلاب، خشکسالی، لغزش زمین و رویدادهای غیرمترقبه دیگر، علاوه بر خسارات جانی و مالی، روند توسعه و ثبات اجتماعی کشور را نیز تحت تأثیر قرار می‌دهد. در چنین شرایطی، مدیریت حوادث نه‌تنها یک وظیفه اداری، بلکه ضرورتی ملی و حیاتی برای حفظ جان و معیشت مردم به شمار می‌آید.
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث افغانستان، بر بنیاد اصول پذیرفته‌شده جهانی و با در نظر گرفتن واقعیت‌های بومی، رویکردی چهارمرحله‌ای را به‌عنوان چارچوب اصلی اقدامات خود برگزیده است: آمادگی، وقایه، رسیدگی و پاسخ‌دهی، و احیای مجدد بهتر از قبل. این مراحل، که در قالب «سیکل مدیریت حوادث» تعریف می‌شوند، حلقه های به‌هم‌پیوسته‌ای هستند که اجرای کامل و منسجم آن‌ها، تضمین‌کننده کاهش خطرات و ارتقای تاب‌آوری ملی خواهد بود.
آمادگی، نخستین گام این چرخه، بر ایجاد ظرفیت‌های فنی، تجهیزاتی و انسانی پیش از وقوع حادثه تمرکز دارد. آموزش تخصصی نیروها، ایجاد سیستم‌های هشدار سریع و برنامه‌ریزی منسجم، از مهم‌ترین اقدامات این مرحله محسوب می‌شوند.
وقایه یا پیشگیری، گامی پیش‌دستانه برای کاهش یا حذف عوامل ایجاد خطر است. در این مرحله، اقدامات ساختاری مانند تقویت زیرساخت‌ها، رعایت استانداردهای مهندسی، مدیریت منابع طبیعی و آگاهی‌رسانی عمومی، نقشی تعیین‌کننده در جلوگیری از تبدیل تهدیدات بالقوه به بحران ایفا می‌کند.
مرحله رسیدگی و پاسخ‌دهی، لحظه رویارویی مستقیم با حادثه است. واکنش سریع، هماهنگی میان نهادهای مسئول، استفاده از ظرفیت‌های داخلی و بین‌المللی و مدیریت کارآمد منابع، در این مقطع می‌تواند پیامدهای حادثه را به‌طور چشمگیری کاهش دهد.
سرانجام، احیای مجدد بهتر از قبل به‌عنوان مرحله بازسازی پایدار، فراتر از بازگرداندن شرایط به حالت پیشین است. این مرحله فرصتی است تا زیرساخت‌ها مقاوم‌تر، جوامع آگاه‌تر و سیستم‌های مدیریتی کارآمدتر از گذشته شکل گیرند؛ به‌گونه‌ای که نه‌تنها آثار حادثه جبران شود، بلکه توان مقابله با بحران‌های آینده نیز افزایش یابد.
اجرای مؤثر این چرخه، مستلزم تعهد، هماهنگی و مشارکت همه‌جانبه است—از ارگان‌های دولتی و نهادهای بین المللی گرفته تا بخش خصوصی و هر شهروند. این همکاری ملی، بنیانی استوار برای جامعه‌ای تاب‌آور، ایمن و آماده خواهد ساخت.مجله «مدیریت حوادث» با هدف ارتقای دانش عمومی و تخصصی در این حوزه، در این شماره به بررسی علمی و عملی هر یک از این مراحل، ارائه تجارب موفق داخلی و بین‌المللی، و تحلیل چالش‌ها و فرصت‌های پیش‌رو می‌پردازد. امید است که با نشر این مطالب، گامی مؤثر در جهت ارتقای فرهنگ مدیریت حوادث و تقویت آمادگی ملی برداشته شود.



# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې پرمختګ ته کتنه

په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې، نړۍ د طبیعي پېښو شاهده وه، چې له امله یې له ٦٠ ملیاردو ډالرو څخه زیات مالي زیانونه اړولي وو او شاوخوا درې میلیونه انسانانو خپل ژوند بایللی و. دې پېښو د ملګرو ملتونو عمومي غونډه د (۲۸۱٦) پریکړه لیک تصویبولو ته وهڅوله ترڅو له پېښو سره د مبارزې لپاره د ملي او نړیوالو جوړښتونو رامنځته کولو امر وکړي، په افغانستان کې، د دې نړیوال چلند سره سم، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د لومړي وزیر تر سرپرستۍ لاندې د (۲٦۲۵) د ۱۳۵۱/۲/۲ نیټې فرمان له مخې تاسیس سوه، په هغه وخت کې، دا اداره په عمده توګه د طبیعي پېښو پرمهال د سمدستي ځواب ویني او زیانمنو شویو ته ژر تر ژره د رسېدني په برخه کې بوخته وه. په لومړنیو وختونو کې د پېښو مدیریت، د خطر کمول او بیا رغوني په مسولیت کې نه وه شامل؛ د لنډمهاله او انتقالي حکومت له جوړېدو سره، د دې ادارې په شمول د هېواد د اداراتو په جوړښت کې پراخ اصلاحات پیل سول. په پایله کې، په ۱۳۸۳ کال کې، د وزارتونو، اړوندو ادارو او د ملګرو ملتونو د دفترونو په همکارۍ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره (ANDMA) له پراخ ماموریت سره تأسیس سوه. په دې ماموریت کې د پېښو د مدیریت د ټولو فعالیتونو همغږي کول، په بېلابېلو پړاوونو کې د پېښو چمتووالی، وړاندوینه، ځوابوینه او بیا رغونه شامل وو.

دې ادارې د پالیسیو، ملي پلانونو، لارښودونو او طرزالعملونو د پراختیا سربېره، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د عالي دولتي کمیسیون په چوکاټ کې د خطر ارزونې، زیان منني پېژندنې، ظرفیت لوړولو، د عامه پوهاوي رسولو او همغږۍ کولو مسؤلیت هم په غاړه درلود.

په ۱۳۸۳ کال کې، د دې ادارې سیمه ییزو دفترونو د هېواد په ۷ زونونو کې د ۱۷۰ کارکوونکو په درلودو سره فعالیت پیل کړ. په دې دفترونو کې شمال، شمال ختیځ، لویدیځ، سویل لویدیځ، سویل، مرکز او ختیځ زونونه شامل وو. په ۱۳۸۳ کال کې، د بیړنۍ کمیټې د پریکړې او د ۱٦/۱۱/۱۳۸۸ نیټې د (۳۹۹) حکم پر بنسټ، د دې ادارې سیمه ییز دفترونه د هېواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې تاسیس او فعال سول، او د کارکوونکو شمېر یې ۳۲۹ ته ورسېد. ورپسې، په ۱۳۸٤ کال کې د PRR پروګرام له لارې جوړښتي اصلاحات او په ۱۳۹۱ کال کې یې د رتبو او معاشاتو د سیستم پلي کول ترسره سول، نن ورځ، د افغانستان له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره، د هېواد د پېښو د مدیریت د مرکزي ادارې په توګه، د پېښو د دورې په ټولو پړاوونو کې فعاله ده او د ملي همغږۍ په رامنځته کولو، د خطرونو کمولو او د ټولنې د انعطاف په لوړولو کې مهم رول لوبوي.

# معرفی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث



## مأموریت اصلی:

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، نهاد محوری مدیریت حوادث در افغانستان است که هدف آن ارتقای ظرفیت جوامع و سیستم‌ها در برابر خطرات احتمالی، کاهش آسیب‌پذیری، رسیدگی سریع به وضعیت‌های عاجل، ارائه هشدارهای پیشگیرانه و احیای مجدد بهتر از قبل می‌باشد.

این اداره با استفاده از سیکل مدیریت حوادث، تمام مراحل چرخه حوادث را به‌صورت منسجم و علمی به پیش می‌برد:

### آمادگی:

- ارتقای ظرفیت نهادها، جوامع و کارکنان
- آموزش تخصصی تیم‌های پاسخ‌گو
- ایجاد سیستم‌های هشدار سریع و طرح‌های عملیاتی

# وقایه/پیشگیری :

- کاهش خطرات و آسیب‌پذیری های ناشی از حوادث طبیعی از طریق پلان‌های ملی و محلی، تطبیق پروژهای وقایوی ، ارایه هشدار های قبلی و آگاهی عامه؛
- همکاری در برنامه‌های پاک‌سازی ماین و مهمات منفجرناشده.



# رسیدگی و پاسخ‌دهی:

01
عملیات نجات و کمک‌رسانی فوری به آسیب‌دیدگان؛

02
هماهنگی ملی و بین‌المللی برای بسیج منابع؛

03
ارائه خدمات عاجل مطابق برنامه‌ها و بودجه‌های بشردوستانه.



# احیای مجدد بهتر از قبل:



- بازسازی زیرساخت‌ها به‌صورت مقاوم‌تر از گذشته؛
- توان‌بخشی و توسعه پایدار در مناطق آسیب‌دیده؛
- ایجاد مکانیزم‌های تاب‌آوری بلندمدت.

# روند ارایه خدمات در اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث

اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به عنوان نهاد مسوول در عرصه مدیریت حوادث، هماهنگی کمک های بشری و انسجام و هماهنگی امور برنامه ماین پاکی افغانستان فعالیت می‌کند. این اداره در چندین بخش از جمله آمادگی در برابر حوادث، کاهش خطرات حوادث، پاسخدهی به حوادث در حالات اضطرار، احیای مجدد و بازسازی بهتر از قبل و عاری سازی ساحات از وجود ماین و مهمات منفجر ناشده فعالیت می‌کند. مراحل کاری هر بخش به طور جداگانه در زیر تشریح می‌شود.



# تطبیق پروژه‌های وقایوی کدام مراحل را طی می‌کند؟

۱ افرادی که مناطق زندگی و کاری شان در معرض خطر حوادث طبیعی است، جهت تطبیق پروژه های وقایوی و کاهش خطر مراحل زیر را باید تعقیب کنند:

۲ ارایه ورقه درخواست از سوی افراد در معرض خطر حوادث یا از طریق مسوول محلی شان به مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در مرکز/به مقام ولسوالی یا والی ولایت در ولایات؛

۳ پس از حکم مقام اداره در مرکز /مقام ولایت سروی و ارزیابی ساحات تثبیت شده توسط هیئت تخنیکی جهت تطبیق پروژه؛

٤ بعد از (سروی، دیزاین، و برآورد) پروژه وقایوی در ساحات تثبیت شده تطبیق خواهند شد.

۵ صدور حکم مقام محترم اداره در مرکز/ والی در ولایت به ریاست آمادگی مبارزه با حوادث به ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت مربوطه جهت رسیده‌گی به درخواست؛



# د زیانمنونکو سیمو د سروې او ارزونې بهیر او د پېښو له خطرونو سره په مخ سیمو کې د وقایوي پروژو پلي کول

۱ د زیانمنونکو سیمو د سروې پلان جوړول او د زیانمنونکو سیمو د تشخیص او تثبیت لپاره ټاکل شویو ولایتونو ته د تخنیکي پلاوي استول؛

۲ له زیانمنونکو او د پېښو له خطرونو سره مخ د سیمو څخه د راټول سویو معلوماتو شننه او د وقایوي پروژو د پلي کولو لپاره لومړیتوب ورکول؛

۳ د زیانمنونکې سیمې راپور چمتو کول او د اداري محترم مقام ته یې د وروستیو تدابیرو لپاره وړاندې کول؛

۵ د پروژې جوړول او د پروژې پلي کولو د موخو ټاکل، له زیاتو خطرونو سره مخ په سیمو کې د پروژو پلي کولو ته د لومړیتوب ورکولو لپاره د تخنیکي کمېټې ټاکل؛

٦ په هغو سیمو کې، چې له مخکې تثبیت سوي د وقایوي پروژو طرحه کول؛

۷ د تخنیکي او انجنیري ټیم له لارې د پېښو له خطرونو سره د مخ سیمو ډیزاین جوړول او د لګښت اټکل ترسره کول؛

۸ د تدارکاتي پړاوونو د ترسره کولو لپاره د تدارکاتو برخې ته د پروژې تخنیکي اسناد لېږل او له ګټونکي شرکت سره د قرار داد تړون کول؛

۹ د پېښو له زیاتو خطرونو سره مخ او ټاکل شویو سیمو کې د پروژې د کار پرانیستل؛

۱۰ د پروژو کانسپټ نوټ او تخنیکي اسناد چمتو کول او د بودجې د تصویب لپاره یې د مالیې وزارت ته لېږل؛

۱۱ د کرښې اچونې لپاره د پروژې پلي کولو سیمې ته د تخنیکي ټیم ورپېژندل او استول او قرار دادي شرکت ته د سیمې تسلیمول؛

۱۲ له بشپړېدو وروسته د پروژې څخه ګټه اخیستل او د پروژې د ساتنې لپاره ځایي خلکو ته د پروژې تسلیمول.

۱۳ په درې پړاوونو (د پروژې د کار په پیل، منځ او پای کې) د تخنیکي ټیمونو له لوري د پروژې د کار له بهیر څخه څارنه کول؛

(د دې اداري له خوا په نوښتګر ډول)

# روند جلب و جذب کمک ها
## جهت رسیدگی برای متضرران احتمالی ناشی از حوادث

- نظر سنجی پیرامون نیازمندی ها جهت مساعدت برای متضررین حوادث در سطح کشور؛
- ترتیب پروپوزل و ارایه آن به کشور های کمک کننده دونر ها و سازمان های بین المللی از طریق وزارت امور خارجه؛
- دریافت مکتوب از جانب وزارت امور خارجه پیرامون موافقت و ارایه کمک های بلاعوض از جانب مراجع کمک کننده؛
- طی مراحل اسناد اداری در داخل اداره ملی آماده گی مبارزه با حوادث؛
- ترتیب فورم معافیت گمرکی در سیستم اسیکودا در وزارت مالیه و بخش های مربوطه آن؛
- تسلیم گیری کمک های بشردوستانه در بنادر و میدان های هوایی کشور؛
- ترتیب پروسه انتقالات اموال کمک شده از طرف آمریت تدارکات به اداره مرکزی و ولایات؛
- حصول اطمینان از دریافت کمک ها به ولایات و اداره مرکزی؛
- جمع و قید مساعدت های در یافت شده از جانب ریاست مالی و اداری؛
- توزیع کمک های دریافت شده مطابق اسناد سروی و لزوم دید رهبری اداره.
- ترتیب ملاقات ها با سفیران کشور های کمک کننده نماینده گان سازمان های بین المللی و دونر ها جهت اقناع آنان در رابطه به ارایه بسته های کمکی؛



# روند پاسخ دهی به درخواست های مردم غرض پاکسازی ساحات ملوث با ماین و مهمات منفجره

- ارایه درخواست از طرف مردم از طریق شماره تماس عاجل 0708606060 و مسوولان محلی به صورت رسمی؛
- اعزام تیم سروی و پاسخدهی به ساحه هدف؛
- بر بنیاد سروی، سیستم به‌گونهٔ اتومات ساحات را اولویت‌بندی کرده و موارد اولویت‌دار شامل پلان پاک‌سازی می‌گردند؛
- تحویل زمین به مردم پس از پاک‌سازی با تأیید ملک و ولسوال و ارایه اسناد آن به بانک معلوماتی؛
- پروسه ارزیابی تاثیرات پس از شش ماه اجرا و در صورت موجودیت بودجه به بانک معلوماتی وارد میشود؛
- آغاز فعالیت تیم‌های آگاهی‌دهی بر اساس سطح حادثه و خطر در مناطق معروض به خطر و کمپ های مهاجرین، با هدف جمع‌آوری معلومات قربانیان مواد منفجره، افزایش آگاهی مردم و کاهش تلفات ملکی از طریق جلسات، نصب لوحه‌های تبلیغاتی و پیام‌ها در رسانه‌ها.



# روند رسیدگی پس از وقوع حادثه ماین و مهمات منفجر ناشده

- اطلاعیه اولیه توسط مردم از طریق شماره عاجل(0708606060) و مسوولان محلی به طور رسمی به ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین؛
- تیم پاسخگویی عاجل موسسسات به موقعیت حادثه اعزام می شود؛
- تیم پاسخگویی عاجل از ساحه کوردینات گرفته و در باره تعداد تلفات، موجودیت مهمات باقیمانده از جنگ و یا هم ساحات خطر ماین گذاری شده تحقیق نموده و گزارش خود را به ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین ارسال می نماید؛
- تیم اعزام شده به مردم محل جلسات آگاهی از خطرات مواد منجره را دایر می نماید؛
- درج آمار تلفات و در صورت موجودیت ساحات آلوده به مهمات منفجره در سیستم؛
- شریک ساختن آمار تلفات به کمیته بین المللی صلیب سرخ و دیگر نهاد های کمک کننده به منظور کمک به قربانیان.



# د ماینونو او ناچاودو توکو قربانیانو، معلولینو او نورو زیانمنو ته د رسېدنې بهیر

- له قربانیانو سره د مرستې مرکزونو ته د معلولینو او اړمنو مراجعه کول او یا په ککړو سیمو کې د سروې او ماین پاکۍ د ټیمونو له لارې د هغوی معرفي کول؛
- د معلول کس ثبت او راجستر کول، د معلولیت د کچې تشخیص او ارزونه چې معلومه سي مراجعه کوونکی شخص څه ډول درملنې یا وړتیا لوړونې ته اړتیا لري؛
- روزنه او اقتصادي، مسلکي او حرفوي وړتیا لوړول، د قربانیانو د مرستو خدماتو ته لاسرسی، او د قربانیانو د حقوقو په اړه پوهاوی ورکول؛
- معلولیت لرونکو کسانو ته د روغتیایي او رواني مشورو خدمتونه وړاندې کېږي. که چېرې مصنوعي غړو لکه (لاس یا مصنوعي پښو) ته اړتیا ولري، دا وسایل ورته چمتو او برابرېږي؛
- په سیستم کې د تلفاتو او د شتون په صورت کې په ناچاوده توکو د ککړو سیمو ثبتول؛
- د مصنوعي غړو له لګولو وروسته له قربانیانو سره د مرستې په موخه د سره صلیب له نړیوالې کمېټې او نورو مرستندویه بنسټونو سره د تلفاتو د شمېرو شریکول، د مصنوعي غړو له لګولو وروسته شخص د څو ورځو لپاره په مرکز کې ساتل کېږي، څو تر پاملرنې لاندې وي او د وسایلو د سمون او کار څخه ډاډ ترلاسه کېږي. د شخص د روغتیایي او رواني وضعیت د بشپړې ارزونې او ډاډ ترلاسه کولو وروسته هغه له مرکز څخه رخصت کېږي؛
- څرنګه چې د مرستو مرکزونه د مرستو پرې کېدو له امله په څو محدودو ولایتونو کې فعالیت لري، که کوم معلول له لیرې ځای څخه مراجعه وکړي، امکان لري د لارې کرایه او لګښتونه یې هم د موسسې له لارې ورکړل سي. له لیرې ځای څخه مرکز ته مراجعه کوونکي معلول ته د موسسې له لوري لګښت ورکول کېږي؛
- د بېړنیو او تېرو پېښو د قربانیانو ترمنځ په خدمتونو وړاندې کولو کې کوم توپیر شتون نه لري.



# روند پاسخدهی در حالات اضطرار به ساحات حادثه زده مراحل زیر را طی میکند

- دریافت اطلاع در مورد وقوع حادثه از طریق تماس تیلفونی مردم محل یا مسوولان محلی جهت پاسخدهی؛
- تنظیم و ارسال تیم‌های موظف به ساحه حادثه، انتقال زخمیان و مصدومین؛
- انسجام و اعزام تیم‌های جستجو و نجات به ساحه حادثه؛
- ارزیابی سریع و عاجل بعد از وقوع حادثه؛
- بررسی و ارزیابی خسارات وارده ناشی از حادثه؛
- تنظیم تسهیل ترانسپورت هوایی به هدف نجات گیرماندگان حادثه و انتقال محموله‌های اولیه عاجل و اضطراری به ساحه؛
- تشریک معلومات و ارقام مربوط به حادثه با وزارت ها و نهادی های ذیربط؛
- هماهنگی کمک ها در حالات اضطرار و پاسخ دهی در جریان حادثه؛
- بسیج منابع کمک‌های بشری (کمک‌های اولیه)؛
- انسجام و هماهنگی با سکتورهای داخلی و نهادهای مرتبط دولتی و کمک کننده‌گان بین‌المللی جهت رسیدگی و پاسخدهی به حادثه؛
- ثبت و راجستر قربانیان و گزارش‌دهی به موقع و دقیق از حادثه و پاسخدهی؛
- نظارت ساحوی از چگونگی تحقق فعالیت های نجات و کمک رسانی؛
- اتخاذ تدابیر امنیتی جهت مصئونیت تیم‌های عاجل و اضطراری از آسیب‌پذیری‌های داخلی؛
- طرح پیشنهاد مساعدت های نقدی برای متضررین و تحقق آن در مطابقت با اصدار حکم مقامات ذیصلاح امارت اسلامی افغانستان؛
- محسوبی مصارف بودجه اضطرار.



# کسانی که به شکل متفرقه از اثر حوادث متضرر می‌شوند جهت دریافت کمک ها باید مراحل ذیل را تعقیب کنند

- ترتیب عریضه از طرف شخص متضرر؛
- تسلیم به مقام محترم اداره؛
- در یافت حکم مقام محترم اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در مرکز/ دریافت حکم مقام ولایت در ولایت ها؛
- حسب لزوم دید مقام اداره ( سروی متضرر یا توزیع مستقیم مواد)؛
- توزیع مساعدت برای متضرر.



# له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس په کابل کې د رضاکارانو ورکشاپ پرانیست




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې په نوښت د ۸/۲/۱۴۴۷ نېټه، د یادې ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په کابل کې د آغا خان پرمختیایي شبکې AKDN په همکارۍ، د AKDN سفیر ډاکټر نجم‌الدین نجم په شتون کې د رضاکارانو ورکشاپ پرانیست. محترم ملا نورالدین ترابي وویل، چې دا پروګرام د کابل او ولایتونو په کچه د طبیعي پېښو پر وړاندې د چټکې او اغېزمنې ځواب ویلو لپاره جوړ سوی او په راتلونکې کې به نورو ولایتونو ته هم وغځول سي. نوموړي زیاته کړه، چې دغه ټیمونه به د پېښو منفي اغېزې کمې او د مرستو بهیر منظم کړي، چې دا د ټولنیز یووالي او مقاومت لپاره مهم ګام دی، دغه رضاکاران به د پېښو د معلوماتو ورکولو او لومړنیو مرستو رسولو په برخو کې فعالیت کوي، چې موخه یې د عامه پوهاوي لوړول او د زیانونو کمول دي.

د AKDN سفیر ډاکټر نجم وویل، دوی د پېښو د مدیریت وړتیا لوړولو لپاره له دې ادارې سره نږدې همکاري لري او دا نوښت یې د چټکې ځواب ویلو لپاره مهم بللی. هغه ژمنه وکړه چې AKDN به د رضاکارو ټیمونو په روزنه او ملاتړ کې برخه واخلي او هیله‌مند دی چې دا پروژه به د نورو ولایتونو لپاره بېلګه شي، په پای کې، دواړو خواوو ژمنه وکړه چې همکاري به دوامداره پیاوړې او په نورو ولایتونو کې به ورته ټیمونه جوړ کړي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د روسیې د فدراتیف جمهوریت له سفیر سره وکتل



د ۱۴۴۷ کال د ۱ میاشتې په ۱۳مه نېټه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د روسیې د فدراتیف جمهوریت له سفیر، دیمیتري ژیرنوف او د هغه له پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې ناسته کې، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د روسیې هېواد له لوري د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې له امله مننه وکړه او څرګنده یې کړه، چې د روسیې هېواد په تېرو کلونو کې هم د افغانستان له ولس سره د سختو حالاتو پر مهال د پام وړ بشري مرستې کړې دي، چې موږ یې منندوی یو، محترم ترابي صاحب د اقلیمي بدلونونو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې افغانستان د دغو بدلونونو له امله سخت اغېزمن سوی، چې له امله یې د طبیعي پېښو لکه وچکالۍ، سېلابونو او نورو پېښو کچه لوړه سوې او خلکو ته یې درانه زیانونه اړولي دي. نوموړي د روسیې له سفیر څخه وغوښتل، چې د افغانستان له ولس سره د هر ډول خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وکړي، وروسته د روسیې فدراتیف سفیر، دیمیتري ژیرنوف، د محترم ترابي صاحب له لیدو څخه مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې روسیه هغه لومړنی هېواد دی چې د افغانستان اسلامي امارت یې په رسمیت پېژندلی، او دا ګام د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو نیتونو او دوامداره همکاریو ښکارندویي کوي. نوموړي زیاته کړه، چې موږ به هڅه وکړو چې ستاسو سره لازمې مرستې وکړو.

د غونډې په پای کې، دواړو لوریو د پېښو مدیریت او نورو برخو کې د ګډو همکاریو او همغږۍ پر دوام ټینګار وکړ.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان د لوی رئیس د دفتر له رئیس سره وکتل




د ۱۴۴۷ کال د ۲ میاشتې په ۹مه نېټه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د عمومي رئیس د دفتر له رئیس، محترم محمد عبدیکر، چې افغانستان ته راغلی و، او د دې سازمان د آسیا او اقیانوسیه سیمې له مسؤلې کاتو ایورې، په افغانستان کې د دې سازمان له مشرې میرمن میا پارک او ورسره مل پلاوي سره وکتل او د پېښو په مدیریت او پر دوه اړخیزه همکاریو یې خبرې وکړې، محترم ترابي صاحب، د ناستې په پیل کې له یاد سازمان سره د دوه اړخیزه همکاریو څخه خوښي وښوده او ویې ویل، چې موږ له دې سازمان سره په بیلابېلو برخو کې پراخ تعامل او همکاري لرو. هغه زیاته کړه، چې افغانستان له اقلیمي بدلونونو سخت اغېزمن سوی او په ورته وخت کې بېلابېلې پېښې لرونکی هېواد هم دی، له همدې امله مو د رضاکارانو د جوړولو طرحه چمتو کړې او دا مهال یې د جذب او روزنې بهیر عملاً روان دی. د ادارې لوی رئیس د ښاغلي عبدیکر پوښتنې ته په ځواب کې وویل، چې زموږ اساسي لومړیتوب د بنسټیزو او وقایوي پروژو پلي کول دی، هغه د IOM له سازمان څخه وغوښتل، چې بشري مرستې تدریجاً په بنسټیزو پروژو بدلې کړي، ترابي صاحب د بادغیس ولایت د وچکالۍ د اغېزو یادونه وکړه او ویې ویل، چې ۴۱ کلي د اوبو له زیات کمښت سره مخ دي او باید ژر تر ژره ورته رسېدنه وشي. نوموړي له یاد پلاوي څخه د رضاکارانو د ملاتړ، د پېښو د مدیریت د معلوماتي ملي سیستم (NDMIS) پیاوړتیا، او د پېښو د مدیریت د فعالیتونو لپاره د اړینو ماشینریو د برابرولو غوښتنه هم وکړه. ورته مهال، د کډوالۍ نړیوال سازمان د لوی رئیس د دفتر رئیس، ښاغلي محمد عبدیکر، د محترم ترابي صاحب له تود هرکلي مننه وکړه او ویې ویل، چې زه تاسو د اغېزناکه فعالیتونو له جریانه خبر یم او ستاسو له اغېزناک مدیریت څخه ځانګړې مننه کوم. هغه یادونه وکړه، چې د دې ادارې ملاتړونو نه یوازې په مرکز، بلکې په ولایتونو او د ډونرانو په کچه هم زموږ سره مرسته کړې، چې موږ ته په افغانستان کې د نورو پروژو د پلي کولو لپاره زیات مالي امکانات برابر سي. ښاغلي عبدیکر وویل، چې موږ به ستاسو له لومړیتوبونو څخه ملاتړ ته دوام ورکړو او د هغوی د تحقق لپاره به خپله هر اړخیزه هڅه وکړو. همداراز، په افغانستان کې د IOM رئیسې میرمن میا پارک د دواړو ادارو تخنیکي او رهبري اړیکې اغېزمنې وبللې او زیاته یې کړه، چې زموږ تیرې ناستې د رضاکارانو د ملاتړ په برخه کې ښه پایله ورکړې او موږ داسې تمویلونکی پیدا کړی، چې له دې طرحې ملاتړکوي. په پای کې دواړو لوریو پر دوامداره او دوه اړخیزه همکاریو ټینګار وکړ.

# رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث ریاست های ولایتی این اداره را در بیست ولایت مورد بررسی قرار داد

رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سفرهای رسمی و گسترده‌ای را به ولایات مختلف کشور آغاز نمود تا از نزدیک روند کاری، چالش‌ها، فعالیت‌ها و خدمات ارائه‌شده توسط ریاست‌های ولایتی این اداره را بررسی و ارزیابی کند.
این سفرها از ولایت هلمند آغاز شد؛ جایی که آقای ترابی پس از ملاقات جداگانه با کارمندان ریاست، مشکلات و پیشنهادهای آنان را شنید و آنها را به خدمت‌رسانی مؤثر و به‌موقع تشویق نمود. وی همچنین از گدام‌های مواد غذایی و غیرغذایی، وضعیت اسناد، پروژه‌ها و نحوه استفاده از مواد نشراتی بازدید کرد. چنین روندی در ولایات نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنگان، بغلان، کندز، تخار و سایر ولایات نیز تکرار شد.
هدف اساسی این سفرها، هماهنگی بیشتر میان ریاست‌های ولایتی و مرکز، نظم‌دهی به دفاتر، ایجاد محیط کاری مناسب، تنظیم درست آرشیف اسناد، ساخت گدام‌های معیاری، جبران کمبودها و تطبیق پروژه‌های وقایوی بود.
در ولایت نیمروز، ترابی صاحب از کمپ مهاجرین در مرز میلک و همچنین از پروژه ساخت یک پلچک در ولسوالی خاشرود بازدید کرد. در فراه، از دو کانال آب‌رسانی در مرکز شهر دیدن نموده و هدایت سپرد تا در اسرع وقت پاک‌سازی شوند تا از سیلاب‌ها جلوگیری گردد. در بادغیس، به مناطق خشک‌سالی‌زده و آسیب‌پذیر سفر کرد و طرح انتقال آب از دریا بالا مرغاب به ولسوالی دره بوم را پیشنهاد نمود.
در فاریاب، پل تخریب‌شده‌ای که برای هزاران خانواده اهمیت حیاتی دارد، مورد ارزیابی قرار گرفت. در جوزجان، پروژه ساخت دیوار گبیونی که سبب حفاظت صدها منزل مسکونی و زمین زراعتی در برابر سیلاب‌ها شده، از جمله دستاوردهای مهم بود.
به همین ترتیب ترابی صاحب، در ولایت سمنگان، از روند ساخت تعمیر جدید ریاست آمادگی مبارزه با حوادث دیدن نموده و همچنین از یک پروژه یک‌میلیونی که به هدایت مقام عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله منظور شده، بازدید به‌عمل آورد.
قابل ذکر است که در تمام ولایات، محترم سرپرست اداره با والیان یا معاونین ولایت‌ها دیدار کرده و پیرامون مدیریت بهتر حوادث، رسیدگی به آسیب‌دیدگان، و اجرای پروژه‌های وقایوی بحث و تبادل نظر نمود.
در پایان، وی کارمندان اداره را به برخورد نیک با مراجعین، انجام امور بدون تأخیر، استفاده شفاف از بیت‌المال و رعایت اصول اداری توصیه نمود و برای تقویت انگیزه، مساعدت‌های نقدی نیز بین آنها توزیع کرد.
این سفرها بخشی از برنامه‌های دوامدار نظارتی و حمایتی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث است تا سطح آمادگی در برابر حوادث طبیعی در کشور افزایش یافته و خدمات‌رسانی به مردم مؤثرتر، سریع‌تر و هدفمندتر صورت گیرد.

# د افغانستان اسلامي امارت له فتحې څخه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږي تر میاشتې، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د فعالیتونو او لاسته راوړنو بشپړ راپور

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د طبیعي او غیر طبیعي پېښو د خطرونو د مخنیوي او کمولو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو ته د رسېدنې او د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ په برخه کې د یوې مسؤلې ادارې په توګه، د افغانستان اسلامي امارت له فتحې څخه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږي تر میاشتې، په لاندې ډول فعالیتونه ترسره کړي دي:




## د هوکړه لیکونو د لاسلیک برخه:

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په تېرو څلورو کلونو کې د پېښو مدیریت، د خطرونو کمولو، د ماین پاکۍ چارو، د پېښو له امله زیانمنو او د خطر سره مخ خلکو ته د مرستو په برخه کې له ملي او نړیوالو موسسو سره ټولټال د درې سوه او یو شپېته میلیونه او درې سوه او اته ویشت زره او نه سوه اته (۳۶۱,۳۲۸,۹۰۸) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو ۴۳۰ هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.
همدارنګه، دې ادارې په همدې موده کې د ملګرو ملتونو له سازمانونو سره ۲۲ توافق نامې لاسلیک کړې دي.

## د بشردوستانه مرستو وېش:

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د افغانستان اسلامي امارت د فتحې له پیل څخه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږي تر میاشتې، له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې او د ملي او نړیوالو مرستندویه سازمانونو په ملاتړ، چې له دې ادارې سره د همکارۍ هوکړه لیک لري او یا هم په همغږۍ کې کار کوي، ټولټال دوه میلیونه او یو نوي زره او شپږ سوه پنځه (۲،۰۹۱،۶۰۵) کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې وېشلې دي. چې له یاد شمېر کورنیو څخه یو میلیون او درې سوه او اووه نوي زره او اته پنځوس (۱،۳۹۷،۰۵۸) کورنیو خوراکي او غیرخوراکي مرستې ترلاسه کړې او شپږ سوه څلور نوي زره او پنځه سوه او اووه څلوېښت (۶۹۴،۵۴۷) کورنیو نغدي مرستې ترلاسه کړې، چې ټولټال نه ملیارده او درې سوه او پنځه اتیا میلیونه اووه سوه درې اتیا زره اووه سوه او یو اتیا (۹،۳۸۵،۷۸۳،۷۸۱) افغانۍ نغدي مرستې وېشل سوې دي.
د یادونې وړ ده چې نغدي مرستې، د سرپناه د ترمیم او جوړولو، د خوراکي توکو برابرولو، د سړې هوا له خطر سره مخ کورنیو، مستحقو کورنیو او د پېښو له امله د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته په بېلابېلو کټګوریو کې وېشل شوې دي.



## د خطرونو د کمولو او وقايوي پروژو برخه:

دا اداره توانېدلې ده، چې په همدې موده کې له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخيستنې او د ملي او نړيوالو مرستندويه سازمانونو په ملاتړ چې له دې ادارې سره هوکړه لیک او همکاري لري، د هېواد د ۳۴ ولايتونو په کچه ۳۵۳ وقايوي پروژې پلې کړې. په دې پروژو کې د پل، پلچک، استنادي او ګبيوني ديوالونو ترميم او جوړول، د چکډيم جوړول، له چکړو او خټو څخه د سيلابي لارو او خوړونو پاکول او د کليو د سړکونو جوړول شامل دي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره توانېدلې، چې د هغو موسسو په ملاتړ چې له دې ادارې سره د همکارۍ هوکړه ليک لري، په ۲۶ ولايتونو کې ۳۹,۷۹۲ باب شلتړونه چې د پېښو له امله په بشپړه او نيمه توګه ويجاړ سوي وو، جوړ او ترميم کړي.

همدارنګه، د دې ادارې له لوري د هېواد په ۳۳ ولايتونو کې له خطر سره د مخ سيمو سروې، ارزونه، تشخيص او تثبيت ترسره سوی دی، چې په پايله کې يې له خطر سره مخ ۶۱۵ سيمې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تخنيکي پلاوي له لوري تثبيت سوې دي.





## د ماینونو او ناچاودو توکو د پاکولو د همغږۍ او انسجام برخه:

دا اداره د ماین پاکۍ چارو د موسسو په همکارۍ توانېدلې، چې د افغانستان اسلامي امارت د فتحې له پیل څخه د ۱۴۰۴ لمریز کال د وږی تر میاشتې، ٦۴۲.٦۴ کیلومتر مربع په ماینونو او ناچاودو توکو ککړې سیمې پاکې کړې. ورته مهال د دې اداري د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست اړوند د ۲۴ ساعته اړیکې شمېرې د فعالیت په ترڅ کې ۱۳,۹۵٦ اړیکې ترلاسه شوې چې په پایله کې یې ۴۰,۱۴۸ کړۍ بېلا بېل ډول ماینونه او ناچاوده توکي په خوندي ډول انتقال او له منځه وړل شوي دي.

همداراز، اووه میلیونه او شپږ سوه څلور پنځوس زره او درې څلویښت (۷,٦۵۴,۰۴۳)کسانو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی او د عامه پوهاوي پیغامونو درلودونکي شپږ میلیونه او څلور سوه نولس زره او نه سوه او یو پنځوس (٦,۴۱۹,۹۵۱) عدده قلمونه، کتابچې، بروشرونه او د بیړنۍ شمېرې کارتونه وېشل شوي دي.



# پنځه کلن استراتیژیک پلان

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو د مدیریت اړوند چارو او د اداري چارو د ښه‌والي په موخه د نوښتګرو پالیسیو تر څنګ، د خپلو کاري شریکانو په همکارۍ چې پکې د پېښو برخې اړوند همکاره موسسې او پېښو ته د رسېدنې عالي کمېسیون غړې امارتي اداري شاملې دي، د ۲۰۲۵ – ۲۰۲۹ کلونو لپاره د پېښو د مدیریت پنځه کلن ستراتیژیک پلان په دوو ملي ژبو او انګلیسي ژبه طرح، تدوین او چاپ کړی.



# له ایران او پاکستان څخه په اجباري توګه د راستنېدونکو لپاره ترسره شوي خدمتونه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې له مخې، له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري ډول د راستنېدونکو هېوادوالو د لنډمهالې هستوګنې لپاره په تورخم، قندهار، نیمروز او د هرات د اسلام قلعه په پوله کې په عصري او معیاري ډول د کډوالو لپاره پنډغالي جوړ کړل، چې دا مهال شپه او ورځ د هېوادوالو خدمت پکښې ترسره کېږي.



# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۴۹ عراده موټرونه او ماشینرۍ وپېرل






له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، په عصري وسایلو سره د دې ادارې د تجهیز په برخه کې چې هم د عادي حالاتو او هم د بېړنیو حالاتو پرمهال د کارولو وړ وي، د خپلو هڅو د دوام په لړ کې، په تېر کال کې د متحده عربي اماراتو څخه او د هرات اسلامقلعه له لارې ۴۹ عراده موټرونه او ماشینرۍ وپېرل. له دې جملې څخه ۲۴ عراده يې هایلکس موټرونه دي چې د بېړنیو حالاتو او د سختو لارو سیمو ته پر وخت د رسېدو لپاره کارول کېږي، یو عراده اسکواتور او یو عراده لوی ډمپر موټر چې په بېړنیو حالاتو کې د کارولو لپاره دی، او ۲۳ عراده ګړندي کرولا ډول موټرونه چې د مرکز لپاره کارول کېږي او په ښار کې د کاروني له نظره خورا ګټور دي.

همدارنګه، د هېواد د غرنیز جوړښت له امله چې په ډېرو سیمو کې د ګرځنده تیلیفون کارول شونی نه دی، د کوډان مخابرې د اړیکې سیستم په ۳۴ ولایتونو کې له کلونو څنډ وروسته بېرته فعال سوی دی او اوس دا اداره په بېړنیو حالاتو کې د هېواد له ۳۴ ولایتونو سره د اړیکې نیولو وړتیا لري.

# راهکار های مؤثر برای کاهش خطرات و اثرات حوادث طبیعی در افغانستان

## چکیده

در دهه‌های اخیر افغانستان بارها شاهد وقوع حوادث طبیعی گسترده‌ای بوده است که خسارات جانی و مالی زیادی را به دنبال داشته‌اند. کمبود برنامه‌ریزی مناسب، ضعف در ساخت وساز، نبود آگاهی عمومی، و محدودیت در ظرفیت پاسخ‌دهی، باعث افزایش آسیب پذیری کشور شده است. در این مقاله تلاش می‌شود تا با رویکردی علمی و کاربردی، به بررسی این چالش‌ها پرداخته و راهکارهای عملیاتی ارائه گردد.



# مقدمه

افغانستان به عنوان کشوری کوهستانی با اقلیم نیمه‌خشک، در معرض خطرات طبیعی متعددی قرار دارد. نبود نقشه‌های خطر، ضعف در هماهنگی نهادی و نبود آموزش‌های عمومی از دلایل اصلی آسیب‌پذیری بالا در برابر حوادث طبیعی است. این مقاله با تحلیل شرایط موجود و استفاده از تجربه‌های بین‌المللی، راهکارهای عملی برای کاهش خطرات پیشنهاد می‌دهد.

# تعریف حوادث طبیعی و غیرطبیعی

حوادث طبیعی معمولاً به رویدادهایی گفته می‌شود که ناشی از پدیده‌های طبیعی مانند زلزله، سیلاب، طوفان، خشک‌سالی و لغزش زمین و..... هستند. این حوادث معمولاً غیرقابل پیش‌بینی بوده و خسارات جدی به جان و مال مردم وارد می‌سازند.
در مقابل، حوادث غیرطبیعی یا انسانی، حوادثی‌اند که در نتیجه عملکرد مستقیم یا غیرمستقیم انسان به وقوع می‌پیوندند. این حوادث شامل جنگ، ترور، حریق عمدی، تصادفات صنعتی و تکنولوژیکی و حملات سایبری می‌شوند.



# په افغانستان کې د طبيعي پېښو له زيات خطر سره مخ جغرافيايي سيمې عبارت دي له:

زلزلې د بدخشان، ننګرهار او پکتيکا ولايتونه له زيات خطر سره مخ کړي دي؛ سيلاب په ټيټو سيمو او د اوبو په حوضو کې لکه قندهار، بلخ، فراه او لغمان کې عام دي؛ وچکالۍ د هېواد په سوېلي، لوېدځو او شمال لوېدځو سيمو کې ليدل کېږي؛ د ځمکې ښويېدل او د غره رالوېدل، په غرنيو سيمو لکه پنجشير، نورستان او بدخشان کې رامنځته کېږي.




زلزله
د ځمکې ښوییدل
سیلاب

## راهکارهای ویژه بر اساس نوع حادثه

عوامل مؤثر بر افزایش آسیب‌پذیری در افغانستان شامل:
زلزله: ایجاد مقررات ساختمانی مقاوم، نوسازی ساختمان‌های آسیب‌پذیر، شناسایی گسل‌های فعال؛
سیلاب: احداث بندها، اعمار دیوار های محافظوی(دیوار های استنادی، گبیونی، چکدم) وتحکیم کاری کانال‌های انحرافی، احیای جنگلات حاشیه‌ای، پاکسازی مسیر رودخانه‌ها؛
خشکسالی: توسعه سیستم‌های ذخیره آب، تغییر روش‌های آبیاری، تنوع در کشت محصولات مقاوم؛
برف‌کوچ: ایجاد تونل‌های ایمنی، سیستم‌های هشداردهی به موقع، عدم ساخت‌وساز در مسیر برف‌کوچ؛
لغزش زمین: محدودسازی ساخت وساز در مناطق شیب‌دار، پوشش گیاهی مناسب؛
آتش‌سوزی جنگلات: مدیریت و کنترول منابع طبیعی، ایجاد خط آتش بر و گشت های منظم.






## علل آسیب پذیری

توسعه نامتوازن شهری در بسترهای پرخطر؛ ضعف زیرساخت‌های مقاوم در برابر زلزله و سیلاب؛کمبود بودجه، نیروی متخصص و تجهیزات مدرن؛نبود سیستم‌های هشدار سریع و اطلاعات دقیق؛سطح پایین آگاهی عمومی و مشارکت جامعه در مدیریت بحران.



# راهکارهای آمادگی و پاسخ دهی

**راهکار مقابله بهتر با حوادث**

- مشارکت مردم در مانورهای اضطراری جدی گرفته شود؛
- سیستم‌های هشدار سریع در مناطق پرخطر نصب شوند؛
- ذخایر اضطراری آب، غذا، دارو (در نقاط بحرانی مستقر شود).
- آموزش‌های عمومی در سطح مدارس و رسانه‌ها تقویت شود؛
- نیروهای امدادی محلی آموزش ببینند و تجهیز شوند؛

## نتیجه‌گیری

مدیریت خطرات طبیعی در افغانستان نیازمند برنامه‌ریزی جامع، هماهنگی میان نهادها، ارتقای سطح دانش فنی و جلب مشارکت مردم است. استفاده از تجربه های جهانی در کنار شناخت شرایط خاص افغانستان، مسیر کاهش خسارات جانی و مالی را هموار خواهد کرد.

با توجه به خطرات گسترده‌ای که افغانستان را تهدید می کند، مدیریت مؤثر و جامع حوادث طبیعی و غیرطبیعی، ضرورتی انکارناپذیر است. ایجاد ساختارهای پایدار، تقویت ظرفیت‌های نهادی، آموزش و بسیج عمومی، و جلب همکاری‌های منطقه‌ای و بین‌المللی، از جمله گام‌هایی‌اند که می‌توانند کشور را در برابر این خطرات توانمندتر سازند.

# پیشنهادات:

1. ایجاد سیستم‌های هشداردهی سریع و مؤثر؛
2. سرمایه‌گذاری در زیرساخت های مقاوم؛
3. آموزش و بسیج جوامع محلی؛
4. تقویت همکاری بین نهادها در سطوح ملی و محلی؛
5. استفاده از داده‌های علمی و تکنولوژی برای تصمیم‌گیری.

# منابع و مأخذ

- اداره ملی احصائیه و معلومات افغانستان؛
- سازمان ملل متحد – UN OCHA Reports؛
- بانک جهانی – گزارش‌های خطرات طبیعی در افغانستان؛
- مطالعات و تحقیقات مؤسسات داخلی در زمینه محیط زیست و مدیریت بحران؛
- تجربه‌های بومی و اطلاعات محلی مستند.

## گرد آورنده:

عبدالطیف پوپل و الله داد قرلق، کارشناسان تحلیل و ارزیابی خطرات حوادث

# د خير رسونې اهميت د شريعت، ټولنې او ساينس په رڼا کې

اسلام د يو بشپړ دين په توګه د انسان ټول اړخونه سمبال کړي، چې له همدې جملې څخه يې يو مهم اړخ د خير رسوني روحيه ده. خير رسونه د انسانيت ګډ ارزښت دی او په اسلام کې ځانګړې اهميت لري. د قرانکريم او رسول الله صلی الله عليه وسلم په ډېرو احاديثو کې مسلمانانو ته دا لارښوونه سوي چي د خير په خپرولو کي فعاله ونډه واخلئ. په ټولنيز او ساينسي لحاظ هم خير رسونه د يووالي، ذهني ارامتيا اوټولني د سوکالۍ بنسټ دی؛ نوهر مسلمان بايد په فردي او ټولنيز ژوند کي د خير رسوني روحيه خپله کړي. **د قرانکريم لارښووني:**

**الف:** الله عزوجل په قرانکريم فرمايي: وتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى (سورةالمائدة: ۲)

ژباړه: په نيکۍ او تقوی کي له يوبل سره مرسته وکړئ.

په ذکر سوي آيات کي رب کريم يوه داسي حاکيمانه فيصله کړې ده، چې د هر انسان د اصلاح او کاميابۍ راز پکښې دی، چي هغه يوبل ته خير رسول او له يو بل سره مرسته کول دي. هر عاقل انسان په دې پوهېږي چي د دنيا ټول انتظام د مخلوقاتو، د يو بل سره سره په مرسته او خير رسوني ولاړ دی. که چيري موږ يو بل ته خير ونه رسو او يو بل سره مرسته ونه کړو؛ نو يو انسان که هر ځومره هوښيار او مالدار سي، بيا هم يوازي د خپل ژوند اړتياوي نه سي پوره کولی، ځکه انسان د ژوند په هر حالت کي د نورو خلکو محتاج دی او خير رسول يوازي په ژوند کي ضروري نه دی، بلکي د ژوند له پيله بيا تر مرګه آن تر قبره...د رسول الله صلی الله عليه وسلم قول او د اصحابو کرامو بېلګي! د رسول الله صلی الله عليه وسلم همداسي ويلي: «أحبُّ النَّاسِ إلى اللَّهِ أنفَعُهُم لِلنَّاسِ» (بخاري او مسلم) ژباړه: د الله په نزد ترټولوبهترين خلک هغه دي چي نورو خلکو ته خير رسوي

**ب:** حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه؛ د اسلام په لومړيو کي خپل څه شتمني د غلامانو د ازادولو او د بېوزلو د مرستي لپاره ورکړه، چي د حضرت بلال حبشي رضی الله عنه ازادول يې د خير رسوني يو ښکاره مثال دی.

**ج:** حضرت عمر رضی الله عنه؛ عمر فاروق به ډېر وخت د سيې پر مهال ګرځېدی چي د خلکو به د څه سي اړتياوه هغه به يې ور پوره کوله. يوه ورځ يو ماشوم دلوږي ژړل؛ نو عمر فاروق رضی الله عنه خپله د اوړو بوجۍ پر اوږه کړه او تر هغه کوره يې ورسول.

**د:** حضرت عثمان رضی الله عنه؛ کله چي د مديني خلک د څښاک اوبو د سختي اړتيا سره مخ سول؛ نو عثمان رضی الله عنه د يهودي څخه (رومه څاه) په خپله بيه واخيست او د مسلمانانو لپاره يې هديه کړ، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته د (فياض) لقب ورکړ.

ليکوال: حافظ حمدالله بدري



ی: حضرت علی رضی الله عنه؛
علي کرمه الله وجهه به د یتیمانو، بېوزلو او مسکینانو سره په مرسته او خیر رسوني کي مشهور و، چي خپل ډوډۍ به یې له یتیمانو او بېوزلو سره نیمه کوله.

ټـولـنـیز لید لوری!
ټولنیز عدالت او همکاري د خیر رسوني په برکت رامنځته کیږي. خیر رسونه د شتمنو او بېوزلو ترمنځ د فاصلې کمولو وسیله ده، چي د ټولني په غړو کي د ورور ولۍ، مساوات او ګډ انساني ارزښتونو احساس ژوندی ساتي. که چی شتمن خلک د خپل مال یوه برخه د نورو د مرستي لپاره ځانګړي کړي؛ نو بېوزله قشر به له لوږي او سختۍ څخه وژغورل سي.
که چیري د خیر رسوني نظام قوي سي؛ نو د ټولني د سقوط، ګډوډۍ او خطر کچه کمېږي او ټولنه هغه وخت خوندي وي چي خلک له یوبل سره مرسته وکړي، چي له برکته به یې د ښوونځیو، پوهنتونونو او روغتونونو جوړول ممګن سي او دا ټول د ټولني د پرمختګ اسباب دي.
خیر رسول یوازي یو عبادت نه دی، بلکي د ژوند د ټولو اړخونو لپاره یوه علمي ستراتیژي ده، چي دا په فردي ژوند کي سکون، کورني ژوند کي برکت او د ټولني په ژوند کي عدالت او ثبات رامنځته کوي.

فردي لید لوری!
د خیر رسوني عمل د مرسته کوونکي لپاره د ژوند په معنا او ارزښت موندولو کي ښه رول لري. کله چي یوڅوک د نورو مرسته کوي، د زړه سکون، روحي ارمتیا او د خوښۍ احساس یې زیاتېږي، ځکه چي مهرباني او د نورو ملاتړ د انسان په فطرت کي ځای لري او شخصیت ته وده ورکوي. کله چي یوانسان د خپلو کړنو مثبت اغېز د نورو په ژوند کيویني؛ نو پر خپلو وړتیاوو یې باور زیاتېږي او ځان ګټور احساسوي.

ساینسي لید لوری!
خیر رسول یا مرسته کول د انسان د ژوند یو ینستیز ارزښت دی، چي د ساینس له نظره، دا د (ډوپامین، سیراټونین او اکسیټوکسین) په څېر د خوښۍ هورمونه ازادوي، چي د فشار کچه کښته کوي، د فزیکي او رواني روغتیا ملاتړ کوي.

خیرکم من تعلم القرآن و علمه

ستاسي څخه ښه سړی هغه څوک دی چي قرآن شریف زده کړي او نورو ته یې هم ور زده کړي.

(بخاری و مسلم)



# The Necessity of a Modern Approach in Urban Flood Management

## Flood: Divine Blessing or Natural Disaster

Floods are an entirely natural phenomenon intrinsically linked to the evolutionary processes of nature. This natural behavior has, both before and after the creation of humanity, given rise to the most fertile and productive agricultural lands. Floods replenish surface and groundwater resources. However, human developmental activities, particularly interference with the natural environment, have transformed this phenomenon into a deadly and destructive calamity. It is self-evident that encroaching on river corridors and constructing buildings in floodplains—without regard for this natural occurrence—invites confrontation and conflict with it. The victor in this clash depends on the relative strength of the opposing forces: if the river maintains its normal flow, humanity can to some extent control the water; but with increased precipitation, heavy rainfall, and glacial melting, a massive flood forms and it is humanity that must bear the irreparable costs and damages. Thus, this situation should be regarded as negligence rather than a natural disaster

Engineer Syed Abdul Basit Rahmani
Translated by:
Mohammad Yousuf Hammad
2nd Jawza, 1401 AH

# Urban Floods and the Reasons for Their Occurrence

The explosive growth of populations and the consequent expansion and development of cities have led to land-use changes from compatible to incompatible states. Reckless construction across urban areas—impervious concrete roofs on buildings, road surfaces, sidewalks, parking lots and the like—acts as a barrier to rainwater infiltration and soil recharge, particularly in cities. This converts the maximum volume of rainfall into surface runoff, which, after accumulating in streets and thoroughfares, results in massive flooding. Urban floods typically arise following intense rainfall on low-permeability urban surfaces. These floods often manifest as waterlogging in streets, roads and homes, especially in low-lying or depressed areas of the city, and can, in many instances, prove lethal and devastating. The following figure illustrates the impact of increasing impervious surfaces on runoff volume across four stages. In the first stage, under natural ground cover (with no impervious surfaces), runoff from rainfall constitutes only 10 percent, with the remainder allocated to groundwater recharge (infiltration), evaporation and transpiration. In subsequent stages, as impervious surfaces or concrete constructions are introduced, runoff increases dramatically, while water infiltration into the soil decreases significantly. Consequently, areas with extensive impervious coverage but limited absorbent and permeable land are highly prone to urban flooding.





# Cities Incompatible with Floods

Over the past several decades, population growth and urbanization—particularly in the capital and major cities of the country—have caused cities to expand rapidly without consideration of master urban plans or adherence to building standards. Urban sewerage systems have been designed without accounting for runoff volumes from rainfall on impermeable surfaces, rendering them incapable of handling flows from intense and seasonal downpours. Green spaces, grasslands, absorbent lands and vegetation are progressively giving way to concrete buildings and impervious structures. Floodplains and river corridors have been encroached upon, with residential homes, administrative buildings, and commercial complexes erected in their place. These factors have resulted in annual urban floods devastating cities across the country, including Kabul, Herat, Kandahar, Mazar-i-Sharif, Charikar and Jawzjan. Most flood events in these cities have also caused significant human casualties and injuries. Urban floods, interacting with covered channels, impervious ground, and diverse land uses, exhibit entirely different hydrological and hydraulic behaviors compared to natural basins. This phenomenon creates irreparable consequences and an undesirable outlook for urban areas. Systems for collecting and draining surface water from rainfall are critical components of urban planning and development; any negligence in their proper design can pose severe problems for human societies. Establishing order and creating a safe environment for citizens requires comprehensive planning, design and management of surface water drainage systems—achievable only through efficient methods and the use of computational models for controlling urban runoff.

## We Must Coexist with Floods

Broadly speaking, escalating climate change, the relentless rise in urbanization and industrialisation and urban development without regard for nature are among the primary drivers of contemporary floods. Today, the world has abandoned terms like "confrontation," "struggle," and "containment" for managing this phenomenon, recognizing that one cannot combat a natural element inherent to the ecosystem. The role of floods in nature must not be forgotten or dismissed. We should not resist them, nor recklessly and selfishly alter the natural order. The consequences and impacts of floods in this land have no end—unless addressed through coexistence, adaptation and management.



## Modern Urban Flood Management

The goal of modern urban flood management is adaptation to this phenomenon. Various countries spent considerable time and resources on confrontation and struggle against it, but such strategies proved far from satisfactory. As a result, they turned to sustainable and adaptive solutions, three of which are briefly outlined below.

## Sponge Cities

This concept has gained significant prominence in China, where urban flooding has more than doubled in recent years. A sponge city is one that naturally stores, uses, and drains water through an ecological approach. Rather than wasting rainwater or allowing it to create challenges, a sponge city harnesses it to meet needs and recharge groundwater. Applications include irrigating urban gardens and lawns, as well as replenishing aquifers.







## Green Roofs

Green roofs (rooftops covered with vegetation) inherently absorb rainwater and help mitigate flooding. This method has become highly popular across Europe. Its benefits include rainwater utilization and reduced runoff. Moreover, green roofs contribute valuably to environmental preservation: they neutralize acid rain effects and eliminate nitrogen pollution in rainwater.

## Flood Retention Basins

In urban flood control management, to address waterlogging in streets caused by floods and reduce runoff, detention basins are employed to regulate flooding in urban areas. These are recognized as an effective strategy for decreasing flood discharge (flow rate). Such basins vary in size, tailored to the dimensions of channels and floods with specific return periods.

In this vein, accounting for floodways, strengthening early warning systems for floods, and other similar methods represent prominent and widely applied solutions globally for reducing runoff or flood flows—collectively referred to as the modern approach to flood management.

# د پېښو مدیریت
## مجله


| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره |
| خپروونکې: | د اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | عبدالسمیع ضربی |
| کتنپلاوی: | میوند زرمتی، حسیب الله شیخانی و رحمان الله رحمانی |
| سموونکی: | قاری تاج محمد همت |
| ډیزاینر: | محمد حسیب نوریان |
| د اړیکې شمېره: | 0702464780 |
| ویب پاڼه: | andma.gov.af |
| ایکس پاڼه: | له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره |
| پته: | شهرنو- شهرآرا برج - له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره |

# مجله مدیریت حوادث

